

## صيام الدين « پسرلی »

د نشر نيټه : ۲۰ اګست ۲۰۱۳ ميلادی

# د کرښې دواړو خواوو ته په سوله او پخلاينه کې درسنيو اغيز ترسرليک لاندې ورکشاپ پيل شو




دميديوتيک افغانستان په نوښت او دالمان هيواد دبهرنيو چارو دوزارت په مالي ملاتړ دافغانستان او قبايلي سيمو ترمنځ دګډې پولې په اوږدو کې دسولې په ټينګښت او پخلاينه کې درسنيو درول داغيزمنتيا په تړاو ددوبنيو زده کړو اوونيز پروګرام رابلل شوی ، چې دهيواد له بيلابيلو ولايتونو او له کوزې پښتونخوا څخه پکې شاوخوا پنځه ويشت خبرياالانو او ژورناليستانو ګډون کړی دی.

دپولې په دواړو غاړوکې ميشت قومونه له يو ډول ستونزو او ننګونو څخه کړيږي او بايده دي، ،چې دپولې په دواړو غاړو کې دامنيت او سولې دټينګښت لپاره جدي هلې ځلې وشي او په دې برخه کې

رسنی او ژورنالیستانو دټولنې له نورو قشرنو زیات او موثر او اغیزمن رول لوبولی شي، په همدې تراو میدیوتیک افغانستان  په سوله او پخلاینه کې درسنیو درول په تړاودغه پروګرام را بللی دی ، چې دپنځو ورځو په اوږدو کې به د چارو دبیلابیلو کارپوهانو او دسولې د فعالینو له لوري ګډونوالو ته معلومات ورکړل شي .

د ورکشاپ په لومړیو کې د میدیوتیک افغانستان عمومي کواردیناتور حمیدالله ځاځي د دوبنیو زده کړو دپروګرامونو په تړاو معلومات  وړاندې کړل، نوموړي وویل، په  دغه پروګرام کې په مهمو ، حیاتي  او ټولنیزو مسایلو خبرې کیږي ،چې رسنۍ کولای شي، که ددغو ستونزو په ختمولو بریالي نشي لږ ترلږه کولای شي ،چې تریوه بریده دغه ستونزې راکمې کړي.

ښاغلي ځاځي وویل ، په تېرو څو کلونو کې میدیوتیک افغانستان د دوبنیو زده کړو ترسرلیک لاندې دبیلابیلو مهمو مسایلو په تړاو پروګرامونه جوړ کړي ، چې تردېره بریده یې موثر ثابت شوي او د رسنیز ډګر کارکونکي مهمو او بنستیزو مسایلو ته متوجه شوي دي.
دښاغلي ځاځي پروینا، که چیرې رسنۍ وغواړي کولای شي، هم د سولې دټینګښت او یا د تاوتریخوالي دزیاتیدو لپاره کار کوي او ددې پروګرام د جوړېدو اساسي موخه همدا ده ، چې رسنۍ خپلو مسوولیتونو متوجه کړي ترڅو دوی دخلکو دعامه پوهاوي ، ټولنیز شعور د ودې لپاره کار وکړي او خلکو ته سوله ییز پیغامونه ولیږدوي.

وروسته دکرښې د دواړو خواوو دجغرافیې دپیژندنې په اړه دسیمه ییزو مطالعاتو دمرکز سرسلاکار عبدالرشید وزیرې ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل.

د دوبنیو زده کړو ددغه پروګرام ګډونوالو ته به له کوزې پښتونخوا دراغلیو میلمنو له لوري هم معلومات وړاندې شي او له پولې اخوا دمدني ټولنې دفعالیتونو ، درسنیو او ژورنالیستانو دوضیعت او نورو ننګونو ستونزو په تړاو به معلومات شریک شي.

دجګړې ځانګړتیاوې، دکرکیچ دحل لپاره دمدني او ولسي بنسټونو دهڅو ارزونه او تحلیل ، دژورنالیستانو بې طرفي او ناپیلتوب، د سولې ژورنالیزم، دسولې ژورنالیزم دمنځګړي په توګه او ګڼ شمیر نورو مسایلو په تړاو به ګډونوالو ته دباتجربه ، مسلکي او په کارپوه اشخاصو له لوري معلومات وړاندې شي.

دمیدیوتیک افغانستان د دوبنیو زده کړو دا څلورم  پروګرام دی ،چې دکابل ولایت په ښکلي او پرامنه سیمه کې جوړیږي ، میدیوتیک افغانستان دهیواد په پلازمینه کې دجوړېدونکو پروګرامونو ترڅنګ په ټولو زونونو کې دژورنالیستانو د ظرفیت لوړونې، مسلکي روزنې ، شبکې جوړونې، دمدني  ټولنې دتقویې او د سولې دټینګښت لپاره په سلګونو برنامې او پروګرامونه جوړ کړي ، چې ډیر اغیزمن او موثر ثابت شوي دي.

صیام الدین « پسرلی »
ننګرهار رسنیز کور

بازګشت به صفحه اصلی  –  www.said-afghani.org

هره  لیکنه  د لیکوال خپل نظر  دی  او خپله  دلیکوال اند  څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی  صلح و تفاهم  سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است